ورځپانه
# هیواد
مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
سه شنبه دذوالحجة الحرام ۲۳ مه ۱٤٤٤ ق کال | دچنګاښ ۲۰ مه ۱۴۰۲ ل کال | دجولای ۱۱ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۷۷ یمه | پرله‌پسې ګڼه ۱۶۷ مه ،اتمه‌دوره


## اسلامي امارت د اقلیمي بدلون له امله زیانمنو شویو سیمو ته ځانګړې پاملرنه لري

د ریاست الوزراء کفیل او سیاسي مرستیال وړمه ورځ پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت له سرپرست وزیر ملا محمد عباس اخند سره په کتنه کې وویل، چې اسلامي امارت د اقلیمي بدلون له امله زیانمنو شویو سیمو ته ځانګړې پاملرنه لري او د اړتیا وړ بودجه به ورته په پام کې ونیسي.

ارګ په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې په دې کتنه کې ملا محمد عباس اخند پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د کړنو، پلانونو او پېښو ته د یاد وزارت د چمتوالي په اړه د ریاست الوزراء کفیل ته معلومات ورکړل.

ملا محمد عباس اخند وویل: شته امکاناتو ته په پام د پېښو پر مهال مرستو رسولو ته چمتوالي لري او همدارنګه له یو شمېر بهرنیو مرستندویو بنسټونو سره په اړیکه کې دي، ترڅو په ګډه د اړتیا پر مهال لاس په کار شي.نوموړي زیاته کړه: په سختو حالاتو کې د خلکو د ژغورنې په موخه په ټولو ولایتونو کې د هوا او ځمکې **۵مخ**

## د انرژۍ سکتور د پراختیا پنځه کلن عملیاتي پلان تائید شو

د اوبو او انرژۍ وزارت وایي، چې د انرژۍ سکتور د پراختیا پنځه کلن عملیاتي پلان له وروستي کېدو وروسته خبرپاڼه کې ویلي، چې د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست ملا عبداللطیف منصور، د وزارت د دفتر د عمومي عبدالعزیز عزیز، د انرژۍ برنامو د رئیس انجنیر فرهاد محمودي او د انرژۍ سکتور د یو شمېر نورو مسؤلینو



د وزارت د رهبرۍ له خوا تائید شو.دغه وزارت په یوه رئیس او د انرژۍ معینیت د وارسي کوونکي قاري محمد په شتون د انرژۍ سکتور د پراختیا **۵مخ**

مجاهد

## امریکا دې د افغانستان په وړاندې واحد دریځ غوره کړي

خو ورځې وړاندې د امریکا ولسمشر جوبایډن خبریالانو ته وویل: د ترهګرۍ له پلوه کې القاعده او نورې ترهګرې شبکې له منځه تللې دي.جو بایډن داهم ویلي، چې افغانستان بیا د امریکا د کانګرېس ځینو غړو اندېښنه ښودلې ،چې په افغانستان کې ترهګري د ودې په



افغانستان نور ګواښ نه دی او زیاته یې کړه، چې په دې هیواد د نړیوالو ترهګرو شبکو لپاره خوندي ځای نه دی.خو برعکس حال کې ده او اوس د ترهګرۍ پرځاله بدل شوی دی.د افغانستان په وړاندې د واشنګتن دغه پاشلي دریځ ته د کابل غبرګون دادی، چې باید امریکایي سیاستوال او چارواکي د افغانستان په وړاندې واحد دریځ غوره کړي او دا دټولو په ګټه دی.

د اسلامي امارت ویاند ښاغلی ذبیح الله مجاهد وایي: هغه امریکایي چارواکي اوسیاستوال ،چې په افغانستان کې د ترهګرۍ د ودې اندېښنې مطرح کوي، په جګړه کې یې شخصي ګټې درلودې او اوس چې په افغانستان کې جګړه پای ته رسېدلې یادو امریکایانو خپلې ګټې له لاسه ورکړې.

مجاهد زیاته کړې: **۵...مخ**

## د کندهار په زاړه قول اردو کې ۵۰ کورونه جوړېږي

د کندهار په زاړه قول اردو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم انعام الله سمنګاني، د ښار جوړونې رئیس مولوي عبدالمتین عاشق، د کندهار



پر اساس د ۵۰ کورونو د جوړولو د بنسټ ډبره کېښودل شوه.په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیر الله خیر خواه، د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي ښاروال حسن حاجي ، د امربالمعروف رئیس مولوي عبدالحي عمري او نورو مسئولینو ګډون کړی و.د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیر خواه باختر آژانس ته ویلي، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین **۵مخ**

د سوداګرۍ او پانګونې خونه:

## د چین او افغانستان تر منځ د ریل پټلۍ په فعالېدو سره به سوداګرو ته آسانتیاوې رامنځته شي

د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداره وایي: له سوداګریزو توکو بار یو اورګاډی له چین څخه د افغانستان پر لوري را روان شوی دی.د دې ادارې ویاند زیاتوي، دغه ریل ګاډی به چې په کې ۸۶۰ ټنه سوداګریز توکي بار دي، په نږدې راتلونکي کې افغانستان ته راورسېږي.د وسپنې پټلۍ ادارې ویاند عبدالسمیع دراني وایي: ((که له چین سره راکړه ورکړه ولرو، له دې هیواد سره به مو سوداګري وده وکړي. د دې پر ځای چې له سند او نورو لارو په درې میاشتو کې له چین څخه افغانستان ته مالونه راورسېږي، غوره ده چې په ۱۵ ورځو کې سوداګریز توکي هیواد ته راشي.))له دې سره سم، د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، د مرکزي آسیا له لارې د چین او افغانستان تر منځ رامنځته شي.د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړي خان جان الکوزی وایي: ((له بده مرغه چې اوس‌مهال له دې اړخه ډېر کم دي. توکي په سېستماتیک ډول نه‌دي ،چې راورسېږي او بېرته کانتینرو ډک شي.))د اقتصادي چارو کارپوه



د ریل پټلۍ په فعالیدو سره به سوداګرو ته ډېرې آسانتیاوې له یو لوري یعني له چین څخه توکي راوړل کېږي، خو قطب‌الدین یعقوبي وایي: ((هغه کرښې **۵مخ**

## تورخم کې د لسګونه کیلوګرامه مسو د قاچاق مخه ونیول شوه

د تورخم ګمرک ریاست مسئولین په دغه ګمرک کې د ۱٦۷ کیلوګرامه مسو د قاچاق د مخنیوي خبر ورکوي. د تورخم ګمرک آمر انجنیر مسلم خاکسار وایي، چې دوی د تشریح کارمندانو له لوري په یوه بار وړونکي موټر کې ۱۶۷ کیلو ګرامه مس نیولي، د نوموړي موټر چلوونکي غوښتل ګاوندي هیواد ته یې د قاچاق په توګه انتقال کړي. د یادونې وړ ده، چې څو ورځې وړاندې هم په دغه ګمرک کې د لسګونه کیلوګرامه ګران بیه ډبرو مخه نیول شوې وه.

## په بغلان کې۱۷۵ مېرمنې د خوراکي او لاسي توکو پر تولید بوختې دي

د بغلان سیمه ییز چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې شاوخوا ۱۷۵ مېرمنې د خوراکي او لاسي توکو د تولید په برخه کې کار کوي، خو دغه مېرمنې وایي، چې تولید شوي توکي یې بازار نه لري.د بغلان په مرکز پلخمرې کې د خراسان د کلچو جوړولو فابریکې مشرې زرمینې نوابي د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته ویلي، چې په دې کارخونه کې ۲۵ هغه مېرمنې کار کوي چې نالوستې دي، خو د اقتصادي ستونزو په زیاتېدو سره اړې شوې ،چې په فابریکه کې کار وکړي.نوابي وویل: (( د خراسان په فابریکه کې مورږ کلچې، ګوش فیل، مربا، اچار، چکني او نور ګڼ توکي تولید کوو.))د نګین

۱۵۰ مېرمنو کار کاوه خو په دې وروستیو کې یې تولیداتو ته مناسب بازار نشته، نو په



مرزوقي په نامه د لاسي توکو د شرکت مسئوله لیلا کاظمي وایي، چې دوی سره په لومړیو کې په دې شرکت کې شاوخوا همدغه بنسټ یې ورځ تر بلې د کارګرانو شمېر کمېږي.کاظمي وویل: له لاسي تولیداتو څخه د ملاتړ په موخه **۵مخ**

## ۱۰۳تنه پخواني معتادین د هرات د مالګې کان کې ګومارل شوي

د هرات د پولیسو ویاند عبدالله انصاف وایي ،چې د هرات ولایت د امنیې قوماندانۍ له نشه‌يي توکو سره د مبارزې مدیریت ۱۰۳ تنه روږدي کسان چې په نشه‌يي توکو د روږدو کسانو د درملنې په کلینیکونو کې یې درملنه شوې، د مالګې په یوه کان کې ګومارلي دي.
ده زیاته کړه: دغه روږدي کسان د خپلو کورنیو په همغږۍ د هرات ولایت د غوریان ولسوالۍ د مالګې په کان کې د کار پیدا کولو په مقصد لېږدول شوي او په راتلونکي کې به هم د نورو روږدو کسانو لپاره د کار زمینه برابره کړي.
ویل کېږي چې د هرات سیمه ییزو چارواکو د تېر کال په ساړه ژمي کې زرګونه روږدي کسان له لارو او کوڅو څخه راټول کړل او د درملنې لپاره یې په نشه یي توکو د روږدو کسانو کلینیکونو ته یوړل او له څو میاشتو وروسته دغه کسان روغ او عادي ژوند ته راستانه شول.

## په پیرو کې ۲۳ افغانان له قاچاقبرانو ژغورل شوي

په پیرو کې چارواکي وایي: وړمه ورځ یې له برازیل سره په ګډې پولې کې ۲۳ افغانان له قاچاقبرانو څخه ژغورلي دي هیواد شمالي سرحد ته یې ورسوي. په اعلامیې کې دا هم ویل شوي، چې قاچاقبرانو د دې افغان کډوالو سره ټګي کړې وه خلور یې ماشومان دي ،چې یو یې پکې دوه میاشتینی ماشوم هم دی. چارواکو په دې هکله څه ندي ویلي، چې په ژغورل شویو




دي. د پیرو لویې څارنوالۍ په یوې اعلامیې کې ویلي ،چې دې کډوالو کوښښ کاوه ایکواډور ته ولاړ شي او قاچاقبرانو ته یې پیسې ورکړې وې، چې د او هغوی یې د پیرو – برازیل تر منځ په ګډ سرحد کې په یو کور کې بند ساتلي و ؛ خواړه او د څښاک اوبه یې هم نه ورکولې. په ژغورل شویو کسانو کې کې څومره یې نارینه او څومره یې ښځینه دي. د څارنوالۍ په اعلامیې کې دا ندي ویل شوي، چې دې افغان کډوالو قاچاقبرانو ته څومره پیسې ورکړې دي.




## اسلامي امارت د سیاست په ډګر کې!

د افغانستان داسلامي امارت د مدبرانه قیادت او دطالبانو د اسلامي تحریک د سپېڅلو مجاهدینو د مستحکم هوډ، متین عزم او لامثالو قربانیو په پایله کې د امریکا تر رهبرۍ لاندې د ناټو ائتلاف د ۴۸ غړو هیوادونو اشغالګرو ځواکونو زموږ په هیواد کې ماتې وخوړه ، د امریکا جمهور رئیس جوبایډن هم پرخپلې شرمېدلې ماتې اعتراف وکړ او افغانستان یې د نړۍ د استعماري طاقتونو قبرستان یاد کړ. که څه هم په دې نابرابر جنګ کې زموږ په لسګونو زره بې ګناه او مظلوم هیوادوال له خپل هیواد او اسلام څخه ددفاع په موخه په شهادت ورسېدل ، خو د غوښې او فولادو ترمنځ په دغه جنګ کې اشغالګرانو له هېڅ ډول جنایتونو څخه ډډه ونه کړه.دوی حتی د ودونو او جنازو پر مراسمو هم بمبارۍ وکړې او د بمونو مور یې هم د ننګرهار په اچین کې استعمال کړه خو بالاخره له شلو کلونو اوږده جنګ وروسته د ۱۴۰۱ لمریز کال دوړې پر نهمه وروستي امریکایي عسکر د شپې په تیاره کې زموږ له هیواده خپلې پښې سپکې کړې او خړې سترګې زموږ له وطن څخه تېښتې ته اړشو او په دې شکل د اشغال لړۍ پای ته ورسېده د اسلامي امارت مجاهدینو د هیواد پر ټوله جغرافیه کنټرول ټینګ کړ، د قدرت جزیرې ختمې شوې ، د غصب لړۍ پای ته ورسېده. د او غلامخه ونیول شوه ، امنیت تامین شو، د کابل سیند له نشه یانو پاک او معتادین د درملنې په موخه روغتونونو ته واستول شول، اسلامي نظام حاکم شو، پر ټلګټو او ملي پروژو عملي کار پیل شو، دلویولارو د بیا رغونې چارې جریان لري، د پلازمېنې کابل څلور لارې له سره ورغول شوې، د تعلیمي نصاب په برخه کې هم زیات کار وشو، کابل ښاروالۍ هم ددغه ښکلي ښار په صفا کولو او بیارغونه کې دپام وړکار کړی او دغه لړۍ لا دوام لري. د بهرنیو چارو وزارت ، سرپرست هم د اسلامي امارت د نا پیلي سیاست په تعقیب دنړۍ بېلابېلو هیوادونو ته د سفر په ترڅ کې هغوی ته ډاډ ورکوي، چې د افغانستان خاوره به د هېڅ کوم هیواد پر ضدو نه کارول شي او موږ به هېچاته اجازه ورنه کړو چې د افغانستان خاوره د نورو هیوادونو پر خلاف وکاروي. له نورو هیوادونو څخه هم ورته غوښتنه لرو. ددوحې دسولې مذاکرات مو هم په بریالۍ توګه سرته ورسول . موږ پر خپلو ژمنو ولاړیو اوله مقابل لوري هم غواړو ، چې خپلو ژمنو ته د عمل جامه ور واغوندي. د افغانستان اسلامي امارت درسمیت پېژندنې لپاره ټول شرایط پوره کړي، نو دامریکا په مشرۍ نړیواله ټولنه دې له افغانانو په یوه اوبله پلمه انتقام نه اخلي او له ټولو دا غوښتنه کوو، چې افغانستان اسلامي امارت په رسمیت و پېژني.

# د افغانستان خلک راتلونکي ته د امید په سترګو ګوري

د اسلامي امارت له نظره، د امنیت او ثبات تامین د اقتصادي خوځښتونو لپاره د لارې پرانیستل دي، نو له دې برخې کولای شو د خلکو د هوساینې په اړه خبرې وکړو.امنیت د هرچا د هوساینې د خوځښت لپاره لومړیتوب دي.په افغانستان کې د اسلامي امارت له بریا سره سم مسئولینو په هیواد کې په ټولیزډول امنیت او ثبات ته زیاته پاملرنه کړې، هغه نظر چې نن ورځ عملي شوی او په رڼا کې یې اقتصادي خوځښتونه زیات شوي دي.د امنیت په ټینګښت سره په هېواد کې ګڼ شمېر عمراني پروژې پلې شوي او له دې لارې ډېرو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده، نو له دې څخه معلومېږي چې په یوه هیواد کې چې امنیت تامین شوی وي، نو هلته په هره برخه کې آبادي په چټکۍ سره روانه وي، نو د امنیت او اقتصادي ودې ترمنځ نه بېلېدونکې اړیکه شتون لري. دا په داسې حال کې ده چې د امنیت په شتون کې عمراني پروژې د پلان له مخې عملي کېږي تر څو په پاي کې بېوزلي له منځه ولاړه شي او خلک د اقتصادي هوساینې پر لور ګام پورته کړي.

اسلامي امارت د موجوده امنیت په شتون کې اقتصادي سوکالي او له فقر څخه د خلکو ژغورل په حکومتولۍ کې د حل لاره بولي، د همدې مفکورې پر بنسټ په هېواد کې د زیر بنایي پروژو د رامنځته کولو، د بهرنۍ پانګونې د جلبولو او د کار موندنې په برخه کې له طبیعي سرچینوڅخه د ګټې اخیستنې په موخه هڅې روانې دي.



دا هڅې په داسې حال کې ګټورې او مثبتې پایلې لري چې په دې وروستیو کې یو چینایي شرکت «فان چینا افغان» حاضر شوی دی چې په افغانستان کې د انرژۍ او سمنټو د تولید په ګډون په څو نورو سکتورونوکې پانګونه وکړي، له دې وړاندې د ترکیې، ایران، روسیې او نورو هیوادونو یو شمېر شرکتونو د افغانستان په طبیعي زېرمو او نورو سوداګریزو فرصتونو کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده.

اسلامي امارت د ولس په وړاندې د خپل مسئولیت له مخې د هېواد د کانونو د استخراج او نورو اقتصادي ظرفیتونو لپاره د سرپل په قشقري کې د نفتو له څاګانو استخراج پرون پیل کړ، له دې وړاندې د جبل السراج د سمنټوانکشافي سکتور په اجاره ورکړ شو، په هیواد کې د سمنټو د تولید پر پنځو نورو پروژو کار دوام لري، چې ددغو پروژو په تطبیق سره به افغانستان وکولای شي د بهرنیو سمنټو له انحصار څخه خلاص شي.

اوس مهال افغانستان هرکال سلګونه میلیونه ډالره له بهرڅخه د سمنټو په واردولو لګوي، په داسې حال کې چې د سمنټو د تولید لپاره کافي منابع شته، خوهېڅکله دغه زېرمې نه دي کارول شوي، اوس چې د اسلامي امارت تر سیوري لاندې افغانستان کې د سمنټو د تولید پر لور د ګام اخیستو زمینه برابره شوې او زیات وخت به نه وي تېر چې افغانستان په نه یوازې د سمنټو د تولید له پلوه پرځان بسیا شي، بلکې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د سمنټو یو مطرح صادروونکي هېواد به وي. د دې پروژې په څېر په لسګونو او سلګونو کوچنۍ او لویې اقتصادي پروژې شتون لري چې یا تر کارلاندې نیول شوي او یا هم عملي پلانونه لري چې دا ټول د خلکو د هوساینې لپاره ترتیب شوي، کوم چې د کار موندنې سبب کېږي او بالاخره فقر له منځه وړي.

هغه چارې چې اسلامي امارت د اقتصادي پروژو په توګه په لاره اچولي دي، ټولې ستراتیژیکې او اغېزمنې دي، چې په لنډ او اوږدمهال کې یې ګټې روښانه کېږي.

د فزیکي امنیت په تامین سره اقتصادي امنیت جامع تعریف لري او دا د دې سبب کېږي چې د عامه هوساینې لپاره بستر چمتو شي. امنیت او ثبات د هرې ستونزې د درملنې نسخه ده او د افغانستان خلک نن خپل راتلونکي ته د امید په سترګه ګوري. باختر

# رعایت اصول حقوق الناس در اسلام

پوهیالی محمد آغا «سادات»

در این هیچ شکی نیست که دین مبین اسلام مدافع اصلی حقوق الناس(مردم)در تمامی ابعاد زندگی محسوب میشود. ازطرف دیگر یکی از جمله مباحث قدیمی که همواره توسط علما و دانشمندان اسلامی مورد توجه قرارگرفته است موضوع رعایت حقوق الناس و ضمانت اجرایی آن میباشد. زیرا تضمین امنیت، آزادی و کرامت انسانی واصول رعایت حقوق الناس ازاهمیت بالای برخوردار است و در میان ادیان الهی، بی تردید دین مبین اسلام الهام بخش ترین دین در ترویج و حمایت از حقوق انسان دوستانه و ضمانت اجرایی آن به شمار می رود. مسلمانان با التزام به دستورات حیات بخش اسلام؛.

همچنین، تعداد روایات به حدی است که با هیچ یک از ادیان دیگر قابل مقایسه نمی باشد.

اصل موضوع: رعایت اصول حقوق الناس در اسلام

۱- اصل عدالت: از مهمترین مبانی که اسلام به عنوان پشتوانهٔ قوی برای تضمین حقوق انسان دوستانه بیان داشته است، رعایت عدالت در کلیه شئون و روابط انسان ها می باشد، اسلام باتأکید بر این اصل، کلیه اعمال منافی عدالت، از قبیل خودکامگی، قلدری، اعمال خشونت آمیز و جنایتکارانه و نقض حقوق انسان و تجاوز به حریم انسان ها و یا انتقام گیری و کینه توزی را با تمام انواع اش محکوم وممنوع قرارداده است. دین مبین اسلام عدالت را هدف بعثت انبیاء و زیربنای تشکیل حکومت بر مبنای اراده الهی می داند. قرآن کریم در این زمینه در سوره مائده آیه ۸ میفرماید:(( ای کسانی که ایمان آورده‌اید برای الله(ج) به داد برخیزید و به عدالت شهادت دهید و البته نباید دشمنی گروهی شما را بر آن دارد که عدالت نکنید عدالت کنید که آن به تقوا نزدیکتر است و از الله(ج) پروا دارید که الله(ج) به آنچه انجام می‌دهید آگاه است.))

۲- اصل تعلیم اصلاح و تربیت: ازاساسی ترین مبانی اخلاقی که تضمین کننده تطبیق قواعد انسان دوستانه در اسلام مطرح گردیده است، تعلیم، اصلاح، هدایت و تربیت انسانها وتهذیب نفوس و سعی و تلاش در جهت اصلاح انسان ها وجوامع انسانی است؛ الله(ج) در قرآن حکیم، آنجا که احسان بزرگ خود را برای بشریت بخاطر بعثت پیامبر بزرگ اسلام (ص) بیان می دارد، از مهمترین مقصدهای بعثت تعلیم، تزکیه و تربیت را برمی شمارد: که الله(ج) در سوره بقره آیه ۱۲۹- ۱۵۱ و سوره آل عمران آیه ١٦٤ میفرماید « به یقین الله(ج) بر مؤمنان منت نهاد [که] پیامبری از خودشان در میان آنان برانگیخت تا آیات خود را بر ایشان بخواند و ایشان را تزکیه (پاك) گرداند و کتاب و حکمت به آنان بیاموزد قطعا پیش از آن در گمراهی آشکاری بودند.»

۳- اصل حمایت از افراد مستضعف:از فرزانه ترین مبانی که اسلام جهت ضمانت اجرای مقررات دوانسان دوستانه وضع کرده است، اصل حمایت است، آنهم از اقشار ضعیف و مستضعف و آسیب پذیر، این دین آسمانی در این زمینه دستورات اکید و و مقررات بلیغی دارد تا همواره جامعه بشری آنها را تحت پوشش و محبت قرار دهد و زندگی آنها را تأمین و تضمین نمایدو از برخوردهای نابخردانه و موذیانه نسبت به آنها بخصوص در جنگ



ها و حوادث روزگارپرهیز نماید. چنانکه الله(ج) در سوره قصص آیه ٥ می فرماید:« و می خواهیم کسانی را که در سرزمین شان از دست زورمندان و ستمگران، قصداً و عمداً) فرودست و ضعیف ساخته شده اند مورد احسان وامتنان خود قرارداده آنان را پیشوایان [مردم] و وارثان اصلی [زمین] گردانیم». این آیت مبارك حمایت از گروه های ضعیفی را که از دست ایزم های استکباری و سلطه جو، همواره در معرض آسیب های گوناگون قرار می گیرند یگانه هدف تطبیق قاعده های انسان دوستانه در اسلام می داند با بیان این امر که وارثان اصلی این سرزمین پهناور، همین مردم آسیب پذیراند؛ چراکه از جانب این ها هیچ گونه زیان و خساره ئی به آدمی زاد متصور نیست. در اسلام، مسئولیت مقابله با تهدید، ارعاب و ستمگری، وظیفه همگانی است.

۴ – اصل تأکید بر ایجاد امنیت: یکی از بهترین تجلیات انسان‌دوستانه در اندیشهٔ اسلام، اهتمام به ایجاد امنیت برای همه است. اسلام امنیت را والاترین نویدی به جامعه انسانی و از بالاترین سطح ارتقا و تعالی بشری میداند: تأمین امنیت عمومی، از نظر اسلام برای همه شهروندان، خواه مسلمان یا غیرمسلمان از وظایف اولیهٔ همه حکومت هاست و چنانچه برای یکی از شهروندان حکومت اسلامی مهم است. الله(ج) در سوره نور آیه ٥٥ میفرماید که مسلمانان در روی زمین موظف به حفظ امنیت جان، مال، ناموس، شرافت، عقل و ایمان یکایك هستند و کسی نمی‌تواند از راه نامشرع، امنیت آنان را مورد تجاوز قراردهد.

نتیجه گیری: اسلام با طرح این ارزشها >>>ص۵

# راځئ چې له موسمي ناروغیو ځانونه وژغورو

**شاه محمود درویش**

بشپړه روغتیا او سلامتیا د ژوندانه غوره پانګه اوستره شتمني ده او سالم عقل هم په سالم بدن کې وي، ځکه که یو شخص ناروغ وي، نو هغه نه دځان اونه د خپلې کورنۍ او ټولنې له پاره کار کولي شي او نه هم د پاک الله (ج) عبادت په ښه توګه ترسره کولي شي، نو دا په ډاګه ویلي شو چې د هر انسان له پاره روغتیا او سلامتیا غوره سرمایه بلل کیږي اوهم انسان په دې مکلف دی چې باید د خپل ځان او دخپلې کورنۍ د هر قدرمن غړي د روغتیا اوسلامتیا په ساتنه او څارنه کې تل

او په پرله پسې ډول جدي، هوښیار او هڅاند واوسي او هراړخیزه پاملرنه ورته وکړي،نو اوس مهال چې د تودوخې موسم دی او په تاوده موسم کې پرموسمي ناروغیو د خلکو د اخته کیدو احتمال زیات لیدل کیږي، نو له دې امله لازمه ده چې هر قدرمن هیوادوال باید خپلو د اوسیدو ځایونو کې، روغتیا پالنې او چاپیریال ساتنې ته پوره پاملرنه وکړي او هم باید دروغتیا پالنې او چاپیریال ساتنې دسیستم پوره رعایت ته په بشپړه توګه ژمن وي، ځکه چې په دې برخه کې

د ناغیړیو له امله زیاتره وخت زموږ یوشمیر هیوادوال په ډول ډول ناروغیو اخته کیږي، خو له بده مرغه ځینې دغه ډول ناروغان د روغتیایي آسانتیاوو د نه شتون له امله آن خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي، اوس مهال له هروخته ډیره اړینه او ضروري بریښي چې د ګران هیواد هر قدرمن وګړي باید په لازمي توګه د اسهالاتو، نس ناستي او نورو موسمي ناروغیو په وړاندې ځان او دخپلې کورنۍ قدرمن غړي مخکې له مخکې وقایه کړي، یعنې هر څوک باید

د نل، لاسي بمبو، د پاکو او سرپټو څاګانو، چینو او کاریزونو له اوبو څخه باید استفاده وکړي، ناپاکې او غیر صحي اوبه باید له جوشولو او یا په اوبو کې د کلورینو له ګډولو وروسته وڅښي، تازه میوې او ترکاري د کلورینو په اوبو یا پوتاشیم پرمنګناتو اویا پرمالګینو اوبو پرېمینځي اوبیا دې ترې استفاده وکړي، د اوبو لوښي باید ښه پرېمینځي ترهغو چې پاک شي اوبیا ترې استفاده وشي، البته د څښاک د اوبو پرلوښو ناولي لاسونه مه وهئ او هم په دغه ډول ناولو لوښو

کې اوبه مه څښئ ترڅو ناروغ نه شئ، له رفع حاجت څخه وروسته او له ډوډۍ خوړلو مخکې خپل لاسونه پرپاکو اوبو، صابون او یا پر ایرو پرېمینځئ ، دهغو خوړو له خوراک څخه چې په کوڅو او بازارونو کې پلورل کیږي، خاورې او دوړې پرې غورځیدلې وي اویا خوسا وي ډډه وکړئ، دخپل کور او کوڅې کثافات او اضافي توکي د اوسیدو له ځای او چاپیریال څخه لرې یوسئ، بیا هغه په ځمکه کې ښخ کړئ اویایې وسوځوئ، ترڅو د حشراتو او حیواناتو په ذریعه د امراضو له انتقال څخه په امان کې و اوسیږي، همداراز خولې ته دلاسونو وروړل کولي شي میکروبونه بدن ته ورداخل کړي، له غذايي موادو سره د ناولو لاسونو تماس کولي شي هغوته د میکروبونو د لیږدیدو سبب وګرځي، دهغو ټولو څیزونو پاک ساتل ضروري دي چې دخولې له لارې ګیډې ته داخلیږي او دا طریقه د ناروغیو د زیاتیدو او اسهال مخنیوي کوي.

پتمنو هیوادوالو ! پاک خداي (ج) دې وکړي چې پورته یاد شوي ټکي په ښه توګه رعایت کړئ ترهغو چې ستاسو او هم ستاسې د کورنیو قدرمنو غړو روغتیا او سلامتیا له هره پلوه تامین او خوندي شي او د ژوند په بهیر کې د ډول ډول...

۵مخ



# اسراف یکی از علت های اساسی فقر مردم ماست

**توفیق**

امارت اسلامی افغانستان بعد از تحقیق وبررسی دقیق به این نتیجه رسیده است که یکی از علت های فقر مردم کشور اسراف درهزینه آرایشگاه درکشور است. تمام امور حکومت اسلامی برمبنای حکومت اسلامی ومصالح ملی کشور استوار است.

هیچ جای شکی نیست که رهبران امارت اسلامی افغانستان در تمام عرصه های اجتماعی، سیاسی، فرهنگی و... به خصوص دربخش فعالیت های امربه معروف ونهی ازمنکر که دراین عصر وزمان فعلی یک امرضروری واز اهمیت خاص در نظام اسلامی دانسته می شود.

متأسفانه دربیست سال جنگ و اشغال گری در کشور هیچ گامی عملی دراین بخش برداشته نشده بود ودرحال که حکومت جمهوری اسلامی نام داشت ولی هیچ تلاش در زمینه امربه معروف ونهی از منکر حتی یک مورد را درجامعه اصلاح نکرده بودند وازهمین سبب حکومت شان از هم پاشید وباعث هزاران مشکلات بخصوص فقر جامعه شدند.

درزمینه باید دانست که اسراف، از اصطلاحات اسلامی است وازجمله گناهان محسوب میشود.این کلمه در لغت به معنای تجاوزاز حد میانه واعتدال است و منظور از وسط حدی میان افراط و تفریط است وهمچنان اسراف عبارت از خرج کردن مال بسیار زیاد است در غرض کوچك. یا به معنای تجاوز کردن از حدّ معمول و یا خرج کردن چیزی در محل خود زیاده از حدّ لازم و تبذیر خرج کردن چیزی است در غیرمحل.

موضوع اسراف موضوع مهمی است که با پیدایش انسان همواره در زندگی فردی و اجتماعی مطرح بوده است و این خود نشانگر اهمیت موضوع و ارتباط با حیات انسانیت و عدالت اجتماعی است و بسیاری از اختلالات در زندگی انسان از قبیل فقر تبعیض و جنگ ها با این موضوع مرتبط است و در تمام امور مادی و معنوی انسان مصداق دارد و در نظر همه عقلاء اتلاف و اسراف منابع، چیزی زشت شمرده شده و مبارزه همگانی با این بیماری صورت گرفته است ولی میزان موفقیت این مبارزه بستگی دارد به نوع بینش و شناخت انسان از جهان و نوع جهان بینی انسان، به هر میزانی که جهان بینی دقیقتر باشد و ارتباط انسان و جهان را بهتر توضیح دهد انسان در مبارزه با این موضوع موفقیت بهتری بدست خواهد آورد.

باید اعتراف کرد جهان بینی که اسلام برای انسان عرضه داشته است بهترین شناخت است که موافق فطرت انسان نه اینکه از برون بر او تحمیل شده باشد بلکه کتاب تشریع را بر کتاب تکوین تطبیق داده است و در این مقاله سعی شده است که موضوع اسراف و اتلاف منابع به عنوان کلی و راههای پیشگیری آن به نحو اختصار بیان شود.

اسراف در قرآن؛ در اسلام حرمت اسراف از ضروریات بشمار می آید و کتاب و سنت بر حرمت آن تأکید دارد و اجماع قطعی...

ص۵

# د ځغاستې او بوکسنګ نړیوالو لوبو کې د افغاني لوبغاړو بریاوې

**نوري**

د ځغاستې او بوکسنګ نړیوالو لوبوکې افغان لوبغاړي پر دې وتوانېدل،چې د سرو زرو مډالونه وګټي.

د ځغاستې د نابینایانو په نړیوالولوبو کې له افغانستان څخه ولي محمد((نوري))د ۷۰ هېوادونو لوبغاړو په ډله کې د سرو زرو دوه مډالونه ترلاسه کړل.دغه لوبې د روان کال د چنګاښ میاشتې په پنځمه په ۴۰۰ او۵۰۰ مترو واټن کې ترسره شوې.نابینا افغان لوبغاړی اوس مهال په بریتانیا کې ژوند کوي.سربېره پردې د لامبو په لوبو کې ښه ځلېدلی او لاسته راوړنې لري.ده په۱۴۰۰لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې د ځغاستې په ماراتون کې د ۵۰۰ بینا لوبغاړو په ډله کې، د ۱۰ کیلو متره واټن په وهلو سره لومړی مقام ګټلی او همداسې بل افغان سوک وهونکي قیس((خادمي)) په لندن کې خپل برتانوي سیال نورمان ته ماتې ورکړه او د اروپا د سوک((بوکسنګ)) اتل وپېژندل شو په دې توګه د اتلولۍ کمربند یې پر خپله ملا وتاړه. دغه لوبه د روان زېږدیز کال د چنګاښ میاشتې په ۱۰ مه په لندن کې ترسره شوه.له دې وړاندې هم دغه لوبغاړي په لسهاوو لوبې په نړیواله کچه ترسره کړي،چې ښې لاسته راوړنې لري.سپورټ په نړیواله سطحه ډېر پرمختګ کړی دی.هغه هېوادونه چې په دې برخه کې خپل وګړي روزي او د نړیوالو سپورټي لوبو د ترسره کولو لپاره یې بهر ته لېږي د دوی د سپورټ د پرمختګ ښکارندویي کوي.سپورټ د انسانانو روغتیا او سلامتیاخوندي کوي.موږ په سلهاوو د سپورټ ځانګې لرو،چې ځغاسته او بوکسنګ یې ببلګې دي.زموږ ډېر معلول هېوادوال،چې په جګړو کې یې د خپل وجود غړي له لاسه ورکړي دي یا د نورو لاملونو له کبله معلول شوي دي په بېلابېلو سپورټي او ټولنیزو برخو کې ښه ځلېدلي او ښې بریاوې یې ترلاسه کړي دي.دغو دوو لوبغاړو،چې مخکې یې نومونه یاد شول د افغانستان نوم او نښان په نړیوال ډګر کې لوړ کړ او دا حقیقت یې وښود،چې افغانان نه یوازې په سپورټ کې پوه دي؛کبلې په نورو علمي اوساینسي څانګو کې هم ښه ځلېدلي دي.په تېرو کلونوکې،چې نړیوال المپیاد ترسره شوي افغانان په علمي ډګرونو کې ښه ځلېدلي دي.سره له دې،چې افغانان څلورنیمو لسیزو جګړو ځپلي دي او خپل ټول مادي ارزښتونه یې له لاسه ورکړي ، خو بیا هم په کې ښه ښه استعدادونه شتون لري.زموږ افغان لوبغاړو د اروپا په نړیوالو لوبو کې ګډون وکړ او لومړي مقامونه یې وګټل.دغه بریاوې په سادګۍ نه دي ترلاسه شوي.که دوي ښه نه وای روزل شوي هېڅکله یې اتلولي نه شوای ګټلی.اوس هم زموږ په ټولنه کې د جګړې د کلونو تاثیرات شتون لري او زموږ ځوانان یې تر خپلې اغېزې لاندې راوستلي دي.سپورټ یوه ډېره ښه وسیله د ځوانانو د روحیاتو د غښتلي کولو لپاره پېژندل شوې ده.هغه کسان،چې سپورټ کوي تل تازه او خوشحاله وي او هېڅکله په خپل وجود کې د غوړو او شکرې د کچې له لوړېدو څخه شکایت نه کوي.اوس ډېر کسان د زړه له ناروغیو سره مخ دي،چې اکثر یې په وینه کې د غوړو د لوړوالي له امله په ناروغۍ اخته شوي او داسې هېوادوال هم لرو،چې د زړه د ناروغۍ له امله عملیات شوي دي.پیاده مزل هم ښه سپورټ شمېرل کېږي.که سړی هره ورځ یوه ګړۍ پیاده مزل وکړي د شکرې او غوړو له لوړوالي سره نه مخ کېږي.سربېره پر دې خوب یې هم ډېرېږي،ځکه د بدن ټولې برخې پر خوځښت راځي.یوازنی سپورټ،چې ډېر لګښت نه غواړي هغه د ځغاستې سپورټ دی،چې سړی کولی شي هره ورځ سهار یا ماښام مخکې له ډوډۍ خوړلو یوه ګړۍ منډه وکړي .سپورټ سړی له منفي افکارو هم ژغوري او نه پرېږدي،چې دغه افکار د سړي ماغزو باندې حمله وکړي.د سړي وینه تصفیه کېږي او وینه زړه ته او له هغه ځایه د وجود نورو برخوته رسېږي.د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې اکثریت خلک د دې لپاره،چې ناروغ نه شي د خپلې خوښې سپورټونه ترسره کوي.د روغتیاپوهانو د ځغاستې سپورټ ګټې په دې ډول ښودلې دي:د هډوکو او ماهیچو تنظیمول،د زړه ،عروقي او وینې تاثیرات،د وینې فشار کمېدل،د وینې د بدو کلسترولو ټیټېدل،د زړه د حملو کمېدل،د وینې د لخته کېدو کمېدل،د استرس کمېدل،د خوښۍ احساس،پر نفس د اعتماد لوړېدل،د زړښت د بهیر راټیټېدل،د عضلاتي او د هډوکو سیستم کلکېدل،د ارادې غښتلي کېدل،د وجود خوندي کېدل،په وینه کې د سپینو ګلبولونو لوړېدل،د سینې د سرطان ټېټېدل،د هډوکو د ورستېدو ټیټېدل،د شکرې د لوړوالي مخنیوی،د وجود د نظم لوړېدل او همداسې د خوب ښه کېدل.د ځغاستې سپورټ څلورنیم زره کاله وړاندې په انساني ټولنه کې په تېره بیا یونان او ایتالیا کې ترسره کېده او ان له دې هم اوږده مخینه لري.اوس دغه سپورټ د المپیک په چوکاټ کې شامل شوی دی.هغه لوبغاړي،چې په نړیواله کچه د ځغاستې لوبې تر سره کوي هغوی ډېرې جایزې اخلي او دوی پرته له سپورټ څخه خپل وخت په نورو ضایع کوونکوکارونو کې نه تېروي.د دې لپاره،چې زموږ ځوانان او ماشومان ښه وروزل شي د تعلیم،او تحصیل ترڅنګ هغوی باید سپورټ ته تشویق او وهڅول شي.د بدني روزنې او المپیک ریاست کې د ځوانانو شتون پیکه شوی دی،که څه هم د تر یو نیم کال په پرتله اوس مثبت بدلون راغلی ،خو بسنه نه کوي.ځینو لوبغاړو د نظام د بدلون په بهیر کې هېواد خوشې کړی او نورو هېوادونو ته تللي دي.هغه لوبغاړي،چې په خپل هېواد کې پاتې شوي دي پرته له کومې ویرې په خپلو فدراسیونونو کې سپورټ کوي او له کوم ګواښ سره نه دي مخ شوي.اسلامي امارت هم د سپورټ د ودې لپاره هلې ځلې کوي،چې ځوانان وروزل شي،چې په کورنیو او نړیوالو سپورټي سیالیو کې خپل هېواد ته بریاوې او لاسته راوړنې ولري،چې د خپل هېواد نوم اونښان لوړ کړي.اوس زموږ لوبغاړي خواره واره شوي او دغه بهیر د سپورټ پر وده او پرمختګ باندې منفي اغېزه کړې ده.لوبغاړي باید سره راټول او همغږي شي او سربېره پر دې له ځان غوښتنې څخه دې هم ډډه وکړي.په دې کار سره به زموږ ډېر ځوانان سپورټ ته مخه وکړي او د بدني روزنې او المپیک کمېټه کې به د لوبغاړو او سپورټ خوښوونکو شتون ځپه غښتلې کړای شي.په دې کې شک نه شته ،چې سپورټ کول او ټیمونو کې غړیتوب تر لاسه کول د ښه اقتصاد غوښتنه کوي،چې لوبغاړي وتوانېږي انرژي لرونکي خواړه وپیرلی شي او له لاسه تللې انرژي بېرته ترلاسه کړي.اوس د خلکو اقتصاد په ټوله کې کمزور شوی ،خو دومره هم کمزوری شوی نه دی،چې سپورټ هیر کړو.لکه،چې مخکې مې د دوو اتلو هېوادوالو په اړه رڼا وچوله،چې دوی څنګه د زیار او کوښښ په پایله کې یو د ځغاستې او بل د سوک یا بوکس نړیوالو لوبو کې اتلولۍ وګټلې.ځوانان دې د دغو اتلانو پر پله پل کېږدي او په دې لاره کې دې هڅه او هاند وکړي،چې یوه ورځ د خپل هېواد نوم او نښان په نړۍ کې لوړ کړي.سپورټ ډېره ښه وسیله ده،چې د یوه هېواد او ملت نوم د هغه له لارې لوړېږي.موږ داسې لوبغاړي او سپورټمینان هم لرو،چې له هېواد څخه وتلي او په بهرنیو هېوادونو کې لوبې ترسره کوي او ځانونه د افغانستان بولي او پر خپل هېواد ویاړي.دغه لوبغاړي څومره هېوادپال او غښتلي کسان دي.ټول افغانان دنده لري،چې د خپل هېواد پرمختګ ته متې رابډوهي .په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د زده کړې تر څنګ باید سپورټ ته هم پاملرنه وشي،چې ځوانان له روحي پلوه غښتلي شي. کله،چې په دغو مرکزونو کې د سپورټ پرمختګ ته پاملرنه واړول شي،ځوانان په مینه او علاقه خپل د فراغت وخت د بیځایه تګ او راتګ پرځای د خپلې خوښې وړ سپورټ باندې تېرولی شي .موږ امریکا او اروپا پرېږدو،خو د خپلو ګاونډیو هېوادونو د پوهنتونونو او ښوونځیو سپورټي ټیمونو ته نظر اچوو،چې څومره غښتلي ټیمونه لري.دا چې ولې د دغو هېوادونو د پوهنتونونو او ښوونځیو سپورټي ټیمونه غښتلي دي.د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتو نه یې د سپورټ د ودې لپاره ځانګړې سپورټي پروګرامونه لري،چې د هغو په رڼا کې خپل محصلین او زده کوونکي روزي.موږ هم کولی شو،چې سپورټ ته په پوهنتونونو او ښوونځیو او همداسې په ټولنه کې وده او پرمختګ ورکړو،چې زموږ ځوانان په کورنیو او نړیوالو لوبو کې ګډون وکړي او خپل هېواد نړیوالو ته ور وپېژني.

# څـــــــرنګه کولای شـــــو چې خوشــحاله کورنی ژوند ولرو؟

پوهـــنیار مسجدي - رسولي

ژوند رواني اوبه دي، چې بېرته نه را ګرځي او هر څومره چې وړاندې ځي د انسان عمر کموي نو انسانان باید په ژوند کې هڅه وکړي د اغزو پرځای ګلان وکري چې خوشبو يې يې د نورو مشام ته ورسېږي. او هرڅوک غواړي چې خپل کورنی ژوند يې خوشاله او له نیکمرغیو ډک وي او هیڅ ډول مشکلات ونه لري، که څه هم بدبختانه زموږ په ټولنه کې کورني مشکلات او له ښځو سره ناوړه چلند زیات او حتی په ځینو سیمو کې خو خلک د خپل ژوند شریکانې یعنې د ژوند ملګري ته هیڅ ارزښت نه ورکوي چې همدا او دې ته ورته نور ډېر مشکلات وي چې له امله يې په کورنیو کې جنجالونه او مشکلات رامنځته کېږي او بیا دغه دوستي په دښمنۍ اوړي او خوشاله ژوند په پریشانۍ او خفګان بدلېږي، په دغه مقاله کې موږ هغه عوامل تاسې ته درپېژنو چې په ژوند کې به مو د هغو په عملي کولو او تطبیق کولو سره په خوشحاله ګډ کورنۍ ژوند کې مو ښه تغیرات او خوشالي رامنځته شي او د ښځې خاوند او کورنۍ ترمنځ اړیکې به ښې او دوستانه پاتې شي. د دغې مقالې معلومات چې په کتابتونې ښه راټول،او معلومات په مناسب او سیستماتیک ډول په مختلفو ځایونو کې ځای پر ځای شوي دي. چې ګرانو لوستونکو ته به د نوموړې مقالې منځپانګه د درک ور، ساده او آسانه شي.

کلیدي کلیمې: ژوند، عوامل، خوشحاله ژوند.

د ژوند معنا او مفهوم: ژوند یعنې هیلې او تګ، ژوند یعنې شپه او ورځ، یو نوي فکر، د انسانانو لپاره ژوند د نورو مخلوقاتو په څېر پرته له کومې تګلارې او فکره مفهوم نه لري، ځکه ژوند یواځې یوازي شپې او ورځې، اوونۍ، میاشتې او کال تیرولو ته نه وایي. د انسانانو لپاره ژوند هیلې او اُمیدونه دي، ټول وخت انسانان په دې لټه کې دي چې د ژوند پر اصلي مفهوم او مانا ځان پوه او مطمئن کړي. ژوند له ټولو کړاوونو او ستونزو سره د خدای(ج) ستر نعمت دی. په ارزښت يې هغه څوک ښه پوهېږي، چې په مینه کې ژوند وکړي، تل د نورو په چوپړ کې وي او له نورو څخه د کوم شي تمه ونه لري. افلاطون وایي: ژوند د زده کړې لپاره دی او هر انسان باید د زده کړې وروستي پړاو ته ځان ورسوي او همداشان باید په ټولنه کې له ټولو ښه واوسېږي او ښه اخلاق ښه ژوند دي. ارسطُو وایي: د ژوند په اړه فکر کول یو ټولنیز علم دی نه خاص لکه د ریاضي چې په فورمولونو سره ثبوت کیدای شي، دې وایي چې، د ژوند علم ټولنیز دي او هر څوک ورته له بېلابېلو اړخونو ګوري او د ژوند مانا اخلي. اکتر علي شریعتي د ژوند په اړه وایي: که ژوند خندا وي، ولې ژاړو؟ که ژړا وي، ولې خاندو؟ که مړینه وي، ولې ژوند کوو؟ که ژوند وي، ولې مرو؟ که مینه وي، ولې نه ور رسېږو؟ او که مینه نه وي. ولې مین کېږو؟ په هر حال موږ ژوند ته یو ټاکلې تعریف نه شو ورکولای ځکه هر څوک ژوند له خپلې هندارې څخه ګوري. ژوند یوه ډرامه ده، چې هر څوک راځي د ستیژ پر سر خپل تمثیل کوي څوک کم او څوک زیات، خو بالاخره ځي. که چا دا تمثیل په ښه ډول تر سره کړ، نو هغه به تل بریالي وي. د ژوند معنا پر دوو څانګو وېشل کیږي: انفرادي او ټولنیز. په انفرادي برخه کې د هرانسان لپاره د ژوند معنا په جلا توګه کېږي چې د انفرادي او اخلاقي پراختیا درجه څرګندوي. په ټولنیز اړخ کې د ټولنې لپاره د یو فرد په توګه باید وپېژندل شي چې هغه په کې ژوند کوي او وده کوي. یا ژوند هغه ماده ده چې کولی شي ځان بیا تولید کړي او څه ډول چې بقا حکم په همغه ډول تکامل ته رسېږي، نو په ټوله کې د یو ګډ او خوشحاله کورنې ژوند درلودلو لپاره باید لاندې عوامل تقویه، عملي او قوي شي.

۱- «ښه» دغه کلیمه مه هیروئ! دغه پورته کوچنۍ کلیمه پر ډېرو زړونو ښه اغیزه کوي، په ځانګړې توګه د خاوند پر زړه باندې ښه اغیز لرلای شي. «نه» کلمه چې د ښه متضاد کلمه ده هر وخت د جنګ، جګړې او مشکلاتو رامنځته کوونکې او د فساد زېږوونکې کلیمه ده، نو هر کله چې د «ښه» کلیمه په کوم کور کې زیاته کارېږي؛ نو په هغه کور کې د امن او سولې چاپېریال د قایم او دایم کیدو لپاره لاره برابره وي.

۲- د غوسې پرمهال خاموش اوسئ! طبیعي خبره ده چې انسان د ډېرو خواصو درلودونکي دي چې د هغو له جملې څخه يې یوه غوسه هم ده، لومړی خو ښځې ته بویه چې خپله غوسه کنټرول وساتي او له خپل خاوند سره په ښه لهجه او ارامۍ خبرې وکړي؛ خو که چېرته غوسه رامنځته شوه، نو بیا باید خاوند زغم وکړي،اوخاموش واوسي، کله چې يې د میرمن غوسه ختمه شوه بیا ورته توصیه وکړي او د ستونزې په حل کې ورسره خبره وکړي، نو جنجال به نه رامنځته کېږي.

۳- خوږه ژبه او ښه الفاظ وکاروئ! هره ښځه او خاوند له یو بل څخه د مینې، محبت او اُلفت د خبرو توقع لري او دواړه لوري غواړي چې له یو بل سره د مینې او محبت په فضاء کې ژوند وکړي، موږ وینو چې د مینې محبت او الفت ژبه پر ډېرو سختو او کینه ګرو زړونو هم تاثیر کوي او هغه د ځان په لوري مایلوي، خو دغه مینه او محبت هغه وخت پر تاوتریخوالي او لانجو بدله شي چې یو له دواړو څخه د محبت او مینې پولې ونړوي او خوږه لهجه په ترخه بدل کړي، نو په نرمو او له مینې ډکو خبرو سره د کور فضاء سوله ییزه پاتې کېږي چې باید پر همدې ټینګار وشي.

۴- ښښنه وغواړئ، بیا داسې مه کوئ! هیڅ انسان له سهوې اوغلطۍ څخه بچ نه دی، له هر چا غلطي کېږي، خو له غلطۍ کولو وروسته باید ښښنه وغواړئ، دا غلطي او زیاتی که له خاوند څخه وشي او که له ښځې څخه باید له یو بل څخه ښښنه وغواړي او په راتلونکې کې دې له داسې څه کولو څخه ډډه وکړي چې د خفګان لامل کېږي، که چېرې ښځه او خاوند د دوستانو په څېر له یو بل نه ښښنه وغواړي نو د کور چاپېریال به همیشه امن او خوښ وي.

۵- خپلې غوسې وزغمئ! غوسه هر وخت په حماقت پیل کېږي او په پښېمانۍ او ندامت سره پای ته رسېږي، هر کله چې څوک غوسه وکړي، بیا وروباندې پښیمانه وي، خو وروسته پښیماني بیا کومه ګټه نه رسوي او بیا غوسې ډېر مشکلات رامنځته کړي وي، نو ښه خبره داده چې غوسه په پیل کې کنټرول شي ترڅو بیا جنجال رامنځته نشي.

۶- په هر حالت د شکر ویستلو عادت خپل کړئ! ناشکري انسان د الله(ج) د نافرمانۍ او عذاب لوري ته بیایي او د انسان سکون او اطمینان له منځه وړي، که د خوړلو له پاره هرڅه په کور کې ولرئ قناعت پرې وکړئ او د الله(ج) شکر پرې اداء کړئ، ځکه داسې فکر وکړئ، کوم خواړه چې تاسو ته الله(ج) درکړي دي ډېرو نورو خلکو ته يې نه دي ورکړي، ډیر خلک یوازې وچه ډوډۍ هم پوره نه لري، د ناشکرۍ له امله موږ ګورو چې د ډیرو خلکو ښه ژوند او ښه شتمني او کاروبار له منځه تللي دي.

۷- کله چې خاوند په غوسه و، ښځه باید ځواب ورنکړي! که کومه ښځه غواړي چې د کور ماحول يې ښه وي او جنجال يې په کور کې نه وي؛ نو هغې ته په کار دي چې د خاوند د غوسې په حالت کې دې له خپل خاوند سره ځواب نه وایي او خاموشي دې اختیار کړي، چې کله بیا د خاوند غوسه سړه شوه نو ښځه دې ورته خپله غلطي او تېروتنه په آرامۍ سره ورپه ګوته کړي، همدا راز که چېرته ناڅاپه خاوند خپله ښځه د غوسې په حالت کې ولیدله، نو هغه هم باید له زغم څخه کار واخلي چې په دې کې د پوهانو په وینا حکمت دی، خو که سړي هم په دې حالت کې غبرګون وښود، نو حتماً جنجال رامنځته کېږي.

۸- د یو بل د خپلوانو رازونه مه افشاء کوئ! ښځه او خاوند باید د یو بل د خپلو نږدې خپلوانو او کورنۍ رازونه افشاء نه کړي، ځکه دا طبیعي خبره ده چې د خپلو خپلوانو په بدۍ بیانولو انسان خفه کېږي، چې په دې سره هم کورني مشکلات رامنځته کیږي او د یو بل د خفګان سبب ګرځي، نو په کور کې باید د دا ډول ستونزو مخه خپله ښځه او خاوند ونیسي.

۹- د یو بل قدر او عزت وکړئ! قدر او عزت هغه څه دي چې له امله يې نفرت پر محبت بدلیږي او دښمنان هم د انسان دوستان کېږي، له عزت او احترم سره مینه او محبت پیدا کېږي، ښځې او خاوند ته هم په کار دي چې د یو بل احترام او قدر وکړي، نو بیا به په خپلو سترګو وګورئ چې دوې کور کې څنګه خوشاله او سوکاله ژوند لري.



۱۰- په خپل کور کې دیني چاپېریال جوړ کړئ! په کوم کور کې چې ښځه، خاوند او بچیان د دین احکامات په سمه توګه عملي کوي، هغوی به همیشه خوشاله او سوکاله ژوندو لري او هیڅکله به یې په کور کې جنجال او مشکلات نه رامنځته کیږي، ځکه چې اسلام خپلو پیروانو ته د مشرانو د عزت او په کشرانو د شفقت او د ژوند د چارو په ښه توګه د ترسره کولو او د څه له امله چې جنجال، مشکل او اندیښنې رامنځته کیږي، اسلام د هغو کړنو د نه ترسره کولو امر او توصیه کوي.

۱۱- د زغم هنر زده کړئ! زغم او حوصله هغه څه دي چې انسان ته ډېر قدر، ارزښت او شخصیت وربښي او له یو ادني انسان څخه لوی انسان جوړوي، ښځې او خاوند ته هم په کار دي چې که غواړي خپل ګډ ژوند په ښه طریقه او خوشاله تېر کړي نو دواړه باید د زغم او حوصلې هنر زده کړي او یو بل وزغمي، نو په کور کې به اختلافات او مشکلات نه رامنځته کیږي.

۱۲- که خفګان رامنځته شو ژر يې له منځه یوسئ! په ورځني ژوند کې حتماً دا ممکنه ده چې یوه ورځ د ښځې او خاوند ترمنځ خفګان او پریشاني رامنځته شي، تېزه او سخته خبره رامنځته کیږي؛ خو ښه خبره داده چې دغه خفګان او پریشاني باید رتړره ختمه کړای شي، تر زیات وخته پورې پاتې نشي چې په دې سره د ښځې او خاوند له یو بل څخه زړه بدیږي او بیا اوږد خفګان رامنځته کیږي.

۱۳- یو بل احساس کړئ! ښځه او خاوند د ګډ ژوند مهمه جوړه ده او د ژوند ملګري دي، د دوي ترمنځ د محبت او اړیکو تقاضا داده چې پر یو بل رحم وکړي یو بل احساس کړي، احساس او د یو بل فکر کول د دوستۍ او رشتو د ټینګښت سبب ګرځي، له یو بل څخه بې احساسه او بې پروا کېدل ستونزې رامنځته کوي او د یو بل احساس دغه دوستي او رشته پیاوړې کوي، د احساس د نه شتون له امله ناممکنه ده چې د دواړو ترمنځ محبت رامنځته شي.

۱۴- نامحرمو او پردیو سره اړیکې پرېږدئ! د خپلوۍ او رشتو د ماتېدو اساسي لامل دادی چې د ژوند دغه ګډه جوړه د دې پر ځای چې خپلو کې سره وپالي، له نورو سره اړیکې ساتي، ځینې سړي له واده وروسته هم د نورو ښځو په فکر کې وي او یا ورسره اړیکې لري، همدا راز له خپلې ښځې سره يې مینه او رغبت کمیږي او هغه هم له نورو سره د اړیکو او ملګرتیا د پاللو هڅه کوي، نو هر کله چې خاوند او ښځه له یو بل سره وفا نه کوي نو ناممکنه ده چې هغوي دې بیا له یو بل سره ښه کورنۍ او د وفا ژوند ولري.

د خوشحاله اوسیدو لارې چارې! اکثره وخت له ټولو خوشحاله کسان هغه دي چې له ټولو زیات سخاوت کوي. له بلې خوا هغه کسان چې یو نوی شی تجربه کوي او یو اقدام کوي،له هغو کسانو ممکن زیاته خوشحالي احساس کړي چې همیشه پر زړه لار روان وي او د عادت لمن نه پرېږدي. د خوشحالۍ په اړه د ساکسس پوهنتون د محققانو څېړنه هم جالبه ده. دوې معلومه کړې ده چې د شنه رنګ ننداره د خوشحالۍ باعث ګرځي. شین آسمان، شنې اوبه اوشنه رنګونه ذهن ته سکون وربښي پر ځان باور زیاتوي او خوشحالي ډیروي.

پایله : له لیکلو څخه دې پایلې ته ورسیدو چې ژوند د خدای(ج) له لوري یوه ډالۍ ده! د ژوند په کولو، ساتلو او پېژندلو کې باید بشپړ دقت وشي، ځکه چې ژوند د له ټولو کړاوونو او ستونزو سره د خدای پاک ستر الهي تحفه ده، چې د نړۍ هیڅ قانون او حاکم له موجب پرته د غه الهي تحفه له چا څخه سلب کولای نشي، او په ارزښت يي هغه څوک پوهیږي چي په مینه ژوند وکړي او د خپلې کورنۍ غړو سره د غم او ښادي او همدارنګه د مشکلاتو او تکلیفونو وخت کې مرسته او لاسنیوې وکړي. او ژوند یو هدف دي چې ور ته د رسیدو لپاره هر ډول خنډونو سره مخامخ کیږو خو موفق او بریالي انسان هغه دی چې ټولې ستونزې تر شاکوي او خپل ګډ او خوشحاله ژوند ته ادامه ورکوي او نه پرېږدي چي کوم ډول بهرنی پرازیټ د دوې د ژوند رنګ او خوند خراب کړي. په آخر کې وایو الله(ج) دې د ټولو مسلمانانو کورنۍ رشتې، سوله ییزې، پاکې او له خوښیو ډکې ولري، که چېرته په پورتنیو خبرو عمل وشي، شونې ده چې ډېر کورني جنجالونه او مشکلات به حل شي او شته کورنې ژوند به مو ښایسته او رنګین شي او شیبه په شیبه به له خپل ساده ژوند څخه خوند اخلو.

**منابع:**

**۱)د ژوند درسونه ، مقامزی، ریاض.**

**۲)ژوند، عظیمي، شرف الدین.**

**۳)له ژوند څخه خوند واخلئ.**

**٤)ژوند څه ته وایي، وزیری، دولت، Tand. com.**

**۵)د ژوند حقیقت، هاشمي، سید اصغر.**

## رعایت اصول...

احساسات ناشی از عقده مندی را مهار ساخته و انسان را مأمور می سازد تا در مسیر عقلانیت، انصاف و کرامت انسانی گام بردارد. ایمان واقعی بزرگترین مانع برای تعدی و تجاوز است، مومن حقیقی هیچ گاهی کرامت و حیثیت آدمی و بنی نوع خود را پایمال نمی کند، مخصوصاً در حالت جنگ و منازعه. رعایت عدالت در کلیه شئون و روابط انسان ها امر ضروری می باشد، اسلام باتأکید بر این اصل، کلیه اعمال منافی عدالت را ممنوع قرارداده است. اصل اصلاح گری در اسلام از جایگاه رفیعی برخوردار است و هدف از مشروعیت جهاد ودفاع و قتال در اسلام نیز همین است. اسلام بر حفظ پیمان ها و قراردادهای دو جانبه و چند جانبه تأکید می نماید. در دین مبین اسلام ترویج انگیزۀ اخوت و مساوات انسانی یکی از مهمترین اصل محسوب میشود.

**منابع ماخذ:**

**قرآن کریم.**

**۱-ابن اثیر، عزالدین،(بی تا)، کامل تاریخ بزرگ اسلام و ایران، ترجمه عباس خلیلی، انتشارات شرکت سهامی چاپ کتب ایران. سال ۱۳۷۱**

**۲-ابن هشام، محمد، (بی تا)، سیره پیامبر، سال ۱۳۷۵ ترجمه سیدهاشم رسولی، تهران، کتاب فروشی اسلامی.**

**۳- ابن ماجه، محمد،(بی تا)، سنن ابن ماجه، سال ۱۳۵۳ ناشر: دار إحیاء کتب عربی - فیصل عیسی بابی حلبی.**

**۴-ابن هشام، محمد، (بی تا)، سیره پیامبر، سال ۱۳۷۵ ترجمه سیدهاشم رسولی، تهران، کتاب فروشی اسلامی.**

**۵-أبو محمد بن محمد، (۱۴۱۳هـ)، بغیة الباحث عن زوائد مسند الحارث، ناشر: مرکز خدمة سنت و سیره نبوی مدینه منوره، چاپ اول.**

## اسراف یکی از علت های...

در بین علماء و فقها بر آن وجود دارد. قرآن کریم در آیات فراوانی از اسراف نهی کرده است: سورة بنی اسرائیل ۲۷ - ۲٦ می فرماید، ترجمه: (آنان که ثروت و منابع اقتصادی را در غیرمحل صرف می کنند برادران شیطان اند). امارت اسلامی افغانستان این را وظیفه دینی و وجدانی خود میداند که باید جلوهرگونه بحران اقتصادی بخصوص فقر را از راه های مختلف بگیرد، که یکی از علت های جلوگیری ازفقر، مسدودکردن آرایشگاه ها است، که تمام مصارف آن اسراف شمرده وهمچنان کاشت مو وبرداشت ابروی زنان در تضاد باشریعت اسلامی عنوان شده است.

## راځئ چې له موسمي...

ناروغیو له ګواښ سره مخامخ نه شئ او نه هم موسمي ناروغۍ ستاسو د خپګان سبب وګرځي، پردې اساس کیداي شي چې ستاسو د پرله پسې کوښښونو او بیدارۍ له امله ستاسو او ستاسې د کورنۍ د ټولو غړو دژوند غوره سرمایه چې بشپړه روغتیا او سلامتیا ده په هیڅ ډول زیانمنه نه شي، بلکې د تل له پاره ستاسو د ژوند په بهیرکې روغتیا او سلامتیا موخوندي پاتې شي .پردې بنسټ ددې له پاره چې موږ تل له ښې روغتیا اوسلامتیا څخه برخمن واوسو نو دا ډېره اړینه بریښي چې خپل د ژوندانه چاپیریال باید تل پاک وساتو تر هغه چې د ژوندانه په پړاویزو شیبو کې تل خوښي او هوساینه مو په برخه او دهر ډول ناروغیو له ګواښ څخه د تل له پاره خوندي او په امن کې پاتې شو.اسلامي امارت د اقلیمي بدلون له لارې د اړتیا وړ اقداماتو لپاره تیاري نیول شوي او له اړوندو ارګانونو سره بشپړه همغږي موجوده ده.ورته مهال د ریاست الوزراء کفیل او سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر وویل: د اقلیمي بدلون له امله د هیواد ځیني سیمې د سېلابونو له جدي ګواښ سره مخ دي او پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت باید د تیاري لپاره له وړاندې پر یوه جامع پلان کار وکړي. نوموړي زیاته کړه: اسلامي امارت د اقلیمي بدلون له امله زیانمنو شویو سیمو ته ځانګړې پاملرنه لري او به د اړتیا وړ بودجه ورته په پام کې ونیسي.د ریاست الوزراء کفیل زیاته کړه: د طبیعي پېښو د زیانونو د کموالي لپاره د امارتي ادارو د تیاري ترڅنګ باید بین المللي ټولنه هم خپلې مرستې ونه سپموي.

## امریکا دې د افغانستان...

(( د امریکا په کانګرېس او سیاسي اداره کې ځینې جنګ طلبې کړۍ هم شته. هغوی ښایي هغه د جنګ د وخت منافع له لاسه ورکړي وي. د دوی له خوا چې افغانستان اشغال شوی و،ډېر زیات نظامي مصارف کېدل، همدا راز زیاتې پیسې مصرفکېدې او افغانستان ته انتقالکېدې. دوی هغه پیسې او شخصي ګټې وتې له لاسه ورکړې او بیا د جنګ خبرې کوي او دلته د ګواښ او ستونزو خبره کوي. واقعیت دا دی چې افغانستان هېچا ته اجازه نه ورکوي، چې خاوره یې د چا پر ضد وکارول شي. اسلامي امارت په دې برخه کې خپل تصمیم لري او دا د ملي ګټو موافق تصمیم دی. دا د اسلامي امارت ستراتېژي ده ،نو باید په دې اړه څوک اندېښنه ونه لري. امریکایان باید د افغانستان په اړه خپل دریځ واحد کړي.)) ښاغلی ذبیح الله مجاهد وایي:له بل هر وخته اوس په افغانستان کې امنیت ټینګ دی او خلک په سوله ییزه فضا کې ژوند کوي ، نو د هیوادونو په ګټه به دا وي چې د تخریب پرځای د افغانستان له ثبات سره مرسته وکړي.اخوا د سیاسي چارو کارپوهان بیا په دې آند دي چې د افغانستان په وړاندې د امریکا دوه مخی او بې ثباته سیاست نوره پایله نه ورکوي او واشنګټن دې د کابل په وړاندې په خپل اوسني دریځ کې بدلون راولي. دوی وایي، د هغه وخت په پرتله چې په زرګونو امریکایي ځواکونو په افغانستان کې حضور درلود اوس امنیت ټینګ دی او بهرنۍ وسله والې ډلې هم د افغانستان په خاوره کې حضور نه لري .د سیاسي چارو کارپوه سرور نیازی وایي: (( د امریکا کانګرئس په هغې اندازه ،چې د افغانستان په اړه کوم تشویش لري ، دا له واقعیته لرې دی. دلته له پخوا یعني هغه وخت کې چې امریکایان دلته وو، اوس امنیت هم ډاډمن دی. د ترهګرو ډلو فعالیتونه او شتون یې هم په افغانستان کې ډېر راکم شوي دي.)) په تیرو دوو کلونو کې نه یوازې دا چې د کابل او واشنګټن ترمنځ اړیکې عادي نه شوې بلکې دواړو لوریو پر یوبل د دوحې له تړونه د سرغړونې تورونه پورې کړل او تازه هم د ترهګرۍ د ودې په تړ او اندیښنې، چې د امریکا د کانګرېس غړو مطرح کړې دي ، کتونکي بیا په دې باور دي، چې د فشارونو سیاست پایله نه ورکوي او امریکا باید تعامل ته د رسېدو لپاره له کابل سره خبرې پیل کړي.

## د کندهار په زاړه...

(حفظه الله) د حکم پر اساس په زاړه قول اردو کې ۱۵۰ خېریه کورونه جوړېږي، چې له ډلې یې د ۵۰ کورونو د جوړېدو ډېره کېښودل شوه.خیرخواه زیاته کړه، چې یاد کورونه د خصوصي شرکتونو له خوا په معیاري ډول جوړېږي، چې پر هر کورباندې ۱۲ زره ۲۰۰ ډالره لګښت راځي.

## د چین او افغانستان تر ...

چې اوس له چین څخه افغانستان ته پرې توکي راوړل کېږي، په تلپاتې ډول او له دواړو خواوو باید پرې توکي صادر او وارد شي، دا افغانستان د اقتصاد په وده کې مهم رول لوبولي شي.)) د مالیې وزارت بیا: د روان مالي کال په لومړیو څلورو میاشتو کې د افغانستان د ګمرکونو له لارې د تر سره شویو صادراتو، وارداتو او ټرانزیټ په اړه په خپل راپور کې ویلي و ،چې د ګمرکونو له لارې، په څه باندې ۲٦ زره سوداګریزو محمولو کې د څه باندې ۳۰ میلیارډه افغانیو په ارزښت صادرات او په همدې موده کې د ۱۷۳ میلیارده افغانیو په ارزښت واردات شوي دي.

## په بغلان کې ۱۷۵...

باید نندارتون جوړ شي، مناسب بازار پیدا شي او خلک د بهرنیو تولیداتو پرځای کورني تولیدات وکاروي.په دې اړه د بغلان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د هنر او ګرځندوي آمر مولوي عزت میرحقاني وایي، چې حکومت د افغاني تولیداتو، په ځانګړې ډول د ښځو په لاس د جوړو شویو توکو ملاتړ کوي څو وده وکړي.ده وویل، چې اسلامي امارت د خپل افغاني فرهنګ ودې ته ژمن دي او موږ له دغو مېرمنو سره د کار د ودې په موخه د ملاتړ ژمنه کړې.د یادونې وړ ده چې په یاد ولایت کې څو میاشتې مخکې درې ورځنی نندارتون هم جوړ شوی و.

## اوسنی نظام د...

منځ واټن نشته او خلک کولای شي په ډاډه زړه خپلې غوښتنې او وړاندیزونه له مسئولینو سره شریک کړي.دوي د برښنا د وېش او په ځینو نورو برخو کې د پراختیایي پروژو د پلي کېدو په موخه خپلې غوښتنې په کتبي ډول د ریاست الوزراء کفیل ته وسپارلې.ورته مهال مولوي عبدالکبیر دغو قومي مشرانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، اسلامي امارت د ولس په خدمت کې دی او د خلکو هرې غوښتنې ته به رسېدنه کېږي.د ریاست الوزراء کفیل زیاته کړه: اوسني نظام د ملت له غېږې راټوکېدلی، ټول افغانان په کې ځای لري او د سمت او قوم مسایلو ته په کې ځای نشته.مولوي عبدالکبیر وویل: اسلامي نظام د خلکو خدمت خپل مکلفیت بولي او دوی ته یې ډاډ ورکړ، چې غوښتنې او وړاندیزونه به یې د حل په موخه له اړوندو ادارو سره شریک کړي.

## ملګري ملتونه او نړیوال ...

لاسلیکونه راټول او د نړۍ په کچه یې د بشري حقونو اړوندو بنسټونو ته ولېږي .هغه وایي، په پاکستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ عالي کمېشنري او نړیواله ټولنه باید پر دغه هېواد فشار راوړي، څو د افغانانو له ځورونې لاس واخلي.په ورته وخت کې هغه افغانان چې هېواد کې له وروستي سیاسي بدلون وروسته پاکستان ته کډه شوي او له میاشتو راهیسې په نورو هېوادونو کې پناهاخیستو ته په تمه دي، د پاکستاني پولیسو له ناوړه چلن څخه شکایت کوي او وایي، د دغه هېواد حکومت یې ویزې نه نوې کوي او له کبله یې دوی له سختو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.د دوی په خبره، په پاکستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ عالي کمیشنري (UNHCR) او د شارپ دفتر یې هم دوسیې په وخت نه څېړي او دا لامل کېږي چې دوی په دغه هېواد کې میاشتې او کلونه په انتظار تېر کړي.په پاکستان کې افغان کډوال احمد افغان او وحیده نیازۍ وایي چې له تېرو نږدې دوو کلونو راهیسې په دغه هېواد کې بېبرخلیکه اوسېږي او د پاکستان حکومت یې ویزې هم نه نوې کوي. دوی زیاتوي:«دډېروویزې ردېږي او یوازې هغه کسان چې پیسې لري، د ویزو دفترونو ته یې ورکوي او ویزې اخلي. هغه افغان کډوال چې ویزې ونه لري، بندي یا هم افغانستان ته اړول کېږي. په پاکستان کې د ملګرو ملتونو دفتر باید د کډوالو ستونزې حل کړي. په تېرو ۲۰ میاشتو کې چې کوم افغانان پاکستان ته راغلي، کېسونه یې هېڅ پر مخ نه‌دي تللي.»«اصلي ستونزه د ویزې ده. د نوي کولو لپاره یې ډېرې پیسې غواړي. د یوناېچسیآر له لوري هم چې سند ورکړل شي، دوي یې نه مني. یوناېچسیآر د افغان کډوالو دوسیې په ډېر ځنډ څېړي. اقتصادي ستونزې او لوړې بیې خپل اوج ته رسېدلي او د کور کرایه لوړه شوې ده.»د یادونې وړ ده چې د افغان کډوالو دغه پرانېستی لیک تر اوسه د پاکستان حکومت ته په رسمي ډول نه‌دي رسېدلي او نه هم په دغه هېواد کې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ عالي کمېشنرۍ د افغان کډوالو د دغه اعتراضلیک په اړه څه ویلي دي.

## موږ د اسلامي...

صاحب منصبان چې په اوسني حکومت کې دنده پر مخ وړي، په صادقانه او مخلصانه ډول دندې اجرا کوي او حقوق او امتیازات یې هم هره میاشت په وخت ترسره کېږي. نوموړي هم دغه راز په دولتي ادارو کې له پخوانیو کارکوونکو سره د ښه چلند نه کولو ګنګوسې ردوي او دا هسې تبلیغات بولي.دغه راز بیا د کندز ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي او میراث ساتنې مدیر احمد جاوېد رنجبر باختر آژانس سره په مرکه کې وویل: (( کله چې موږ سربېره له دې چې په اطلاعاتو او فرهنګ ریاست کې دنده ترسره کوو، د نورو ادارو هغه که نظامي وي او که ملکي وي له موږ سره د اسلامي امارت مسئولین ډېر ښه او نېک چلند کوي.)) رنجبر زیاته کړه، چې د اوسني نظام په بریا سره په ټول هېواد په ځانګړې ډول په کندز کې امنیت تامین شوي او په هره برخه کې پرمختګونه رامنځته شوي دي.

## هواپیماهای جاسوسی...

جزیره کوریا را به یک درگیری هستهای نزدیک می سازد.نماینده وزارت دفاع کوریای شمالی هم تاکید کرده است «در حال حاضر ما حداکثر صبر و خویشتنداری را از خود نشان میدهیم؛ اما هر چیزی ازخود حدی دارد. تمام اقدامات تحریکآمیز امریکا باید فورا متوقف شود.»سخنگوی وزارت خارجه کوریای شمالی گفته است: هیچ تضمینی وجود ندارد که چنین حادثه تکان دهندهای مانند سرنگونی هواپیمای شناسایی راهبردی نیروی هوایی امریکا در آبهای شرق کوریا اتفاق نیفتد. کوریای جنوبی' ادعای کوریای شمالی مبنی بر نقض حریم هوایی آنکشور از سوی امریکا را رد کرده است.امریکا در کوریای جنوبی نیروی نظامی دارد' پیونگ یانگ مدعی است که طیاره های امریکایی از پایگاه های هوایی که در کوریای جنوبی ساخته شده است وارد حریم فضایی آنکشور میشوند.

## شوکت میرضیایوف ...

میلیونه کسانو ګډون کړي دي. په دغو ټاکنو کې ۱۱۷۸۸۹ یا هم۷٦، ۰ صفر اعشاریه شپږاویا سلنه ناسمې رایې کارول شوې دي.د ازبیکستان ولسمشر شوکت میرامانوویچ میرضیایوف د مې میاشتې په اتمه د دغه هېواد د مشرانو جرګې له استازیو، د سیاسي ګوندونو مشرانو، قضایي او اجرایوي چارواکو او فعالانو سره د ټولپوښتنې پایلو په اړه ویلي و چې د ولسمشرۍ ټاکنې به له وخت مخکې د جولاي په نهمه وکړي

## د انرژۍ سکتور ...

پنځه کلن عملیاتي پلان له ارزولو وروسته تائید کړ.د انرژۍ سکتور مسؤلینو په دغې ناسته کې، ددغه عملیاتي پلان په هکله بشپړ معلومات او تشریحات د اوبو او انرژۍ وزارت د رهبرۍ له مقام سره شریک کړل.په ورته مهال، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست د نوموړي پنځه کلن عملیاتي پلان له تائېدولو وروسته، د هغه د پلي کولو په موخه اړینې سپارښتنې وکړې او ټینګار یې وکړ، چې په ټاکلي وخت کې د ټاکل شویو موخو د تر لاسه کولو لپاره غوره ده چې د انرژۍ سکتور د پراختیا پنځه کلن پلان له دغه عملیاتي پلان سره سم په مدیریتي او پروژه یي توګه په جدي ډول پلی شي.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۰۲۵۲۶۳۱۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایټ www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع ځانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹




### مولـوي عبـدالکبیر:

## اوسـنی نظام د ملت له غېرېږ راټوکېدلی



د ریاست الـوزراء کفیـل او سـیاسي مرسـتیال ورمه ورځ د میدان وردګو له یو شـمېر قومي مشرانو سره پـه کتنه کې وویل، چــې اوسـني نظـام د ملـت له غېـرېږ راټوکېدلي، ټــول افغانان پــه کې ځای لري او د ســمت او قوم مسایلو ته په کې ځای نشته دی.ارګ پــه یــوه خبرپاڼه کې ویلي، چــې دغو قومــي مشرانو او مخورو د اسـلامي امارت پر واکمنۍ خوښي څرګنده کړه او ویې ویل: له څو لسیزو وروسته د افغان ولس رښــتیني استازي د حکومت چــارې پر مخ وړي او دا هر څه د افغانانو د قربانیو په پایله کې ترلاســه شوې دي.دغو مشرانو زیاته کړه: د حکومت او ملت تر ۵مخ

## یو شمېر پانګوال د کور او ښار جوړولو وزارت پر پروژو پانګونه کوي

د هېواد یو شــمېر پانګه والو د کــور او ښــار جوړولــو له سرپرست وزیر شیخ حمد الله نعماني سره په کتنــه کې ویلي، هــوډ لري چې د کور او ښــار جوړولــو وزارت پــر پروژو پانګونــه وکړي.په کتنه کې د کور او ښــار جوړولو وزارت سرپرست شیخ حمدالله نعماني ډاډ ورکــړی، چې یــاد وزارت پــه ټولو پــروژو کــې ورته د پانګونې زمینــه برابرولې شي. ده زیاته کړې، چې په پیروزي اســتوګنیز ښــار ګوټي کې په بشــپړه توګــه د پانګونې لپاره زمینه برابره ده.دا په داسې حال



کــې ده چې د اســلامي امارت پــه بیا واکمنېــدو سره کورنیو او بهرنیو پانګه والــو لېوالتیا ښــودلې، چې د افغانســتان په بېلابېلــو برخو کــې پانګونه وکړي.

### افغان کډوال:

## ملګري ملتونه او نړیوال بنسټونه دې زموږ غږ واوري

د پاکســتاني پولیســو له لوري د افغــان کډوالــو له نیــول کېدو وروســته پــه دغه هېــواد کې د



افغان کډوالو یوې شــورا د تېرې پنجشــنبه پــه ورځ د ملګــرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ او شــارپ دفتر له اســتازیو سره په لیدنه او یوه پرانیســتي لیک کې چــې د ســلګونو کډوالو له لوري لاســلیک شــوي، غوښتي چې د افغان کډوالو ستونزې حل کړي.په دغه لیک کې له ملګرو ملتونو، د بشري حقونو ســازمان او د پاکستان له حکومت څخه غوښــتنه شــوې چې په پاکستان کې دې د افغان کډوالو ستونزې درک کــړي او د کډوالــۍ د نړیوالــو اصولــو او قوانینو له مخــې دې ورسره چلــن وکړي. په پاکســتان کې د افغان کډوالو د شــورا رییــس میراحمد رووفي ســلام‌وطندار ته ویــلي، په دغه هېواد کې لــه افغان کډوالو سره د پاکســتاني پولیسو له زور زیاتي وروســته اړ شــول، څو په یوه پرانېســتي لیک کې د ســلګونو کډوالو ۵مخ

## په لغمان کې د ۲۰۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت کتابتون جوړ شو

په لغمان کې د جاپان هېواد په مالي مرسته د ۱۹۴ زره او ۵۶۷ ډالرو په لګښــت یو کتابتون جــوړ او پرانیســتل شــو.په همدې موخه په جوړو شویو مراســمو کې د لغمان پر والي الحــاج قاري زیــن العابدین عابد سربېره، د پوهنې رئیس مولوي شاه جهان ساجد او د ســلطان غازي بابا ښار ګوټي قومي مشرانو او اوسېدونکو ګډون کړی و. د کتابتــون دغــه ودانــۍ د ســلطان غازي بابا ښار ګوټي د نجونو منځني ښوونځي کې



په ۲۴۵ متره مربع ځمکه کې د جاپان هېواد په مالي لګښت د ۱۹۴ زره او ۵۶۷ امریکایي ډالرو په لګښــت د ۹ میاشتو په مــوده کې جــوړ او ګټې اخســتنې ته وســپارل شو.د پوهنې ریاســت د معلوماتو له مخې یــاد کتابتون کې یو لوی حال، اداري خونې، یوه څا، د اوبو زېرمې، د مطالعې ۹۰ څوکــۍ، ۲۲ المــارۍ او ۱۸ مېزونــه شــامل دي.ورته مهال د ســیمې قومي مشرانو، مخــورو او زده کوونکــو د لغمان والي او مسئولینو څخه مننــه وکړه، چــې د لغمان د ابــادۍ لپــاره کار کــوي او بېلابېلې اقتصادي پروژې یې پلې کړې دي.

### هشدار کوریای شمالی به امریکا؛

## هواپیماهای جاسوســی تان را سرنگون می‌کنیم

کوریــای شــمالی بــه امریکا هشــدار داده و گفته اســت که طیاره های جاسوســی آنکشور را سرنگون خواهند کرد. کوریای شمالی مدعی است که امریکا بــار ها حریــم هوایی آنکشــور را نقص کرده است و طیاره های امریکایی بیشــتر به هــدف جاسوســی وارد حریم هوایی کوریای شمالی میشوند و پیونګ یانګ خویشتن‌داری میکند٬مګر دیګر اجازه نمیدهد که این وضعیت ناهنجار ادامه



پیــدا کند.ســخنګوی وزارت دفاع کوریای شمالی در بیانیه‌ای که توســط خبرګزاری رســمی این کشور منتشر شــده، تاکید داشــته اســت: اقدامات نظامی تحریک‌آمیز از سوی واشنګتن، شبه۵مخ

### کندز کې د تېر حکومت کارکوونکي:

## موږ د اسلامي امارت له چارواکو سره د وروړګلوۍ په فضاء کې خپلې دندې ترسره کوو

پــه کنــدز ولایــت کــې د تېر حکومــت د نظامــي او ملکي ادارو یــو شــمېر کارکوونکي وايي، چې د اســلامي امارت له چارواکــو سره د وروړګلــوۍ په فضاء کــې خپلــې دندې پر مخ وړي.ســمونیار حفیظ الله ناصري چې په شمال ختیځ زون کې د پولیســو په روزنیز مرکز کــې له تېر حکومــت څخه تر اوس مهاله هم د اســتادۍ دنده پرمــخ وړي، له باخــتر خبري آژانس سره پــه خبرو کې ویلي: ((د تېر حکومت کــوم نظامي افســران چې زما پــه ګډون په دغــه روزنیــز مرکز کــې دنده تــرسره کوي، د تېر پــه څېر له



موږ سره د نېک چلند ترڅنګ تــول معاشــات او امتیازات په وخت راکوي.)) ناصري دغــه راز زیاتــه کړه، کوم خلک چــې له هیواده بهر او یا هم د رســنیو له ادرسه بې ځایــه تبلیغ کوي چــې ګواکې د اســلامي امارت نظــام د تېر حکومت لــه کارکوونکو سره ښــه چلند نه کوي، نــه یواځې بــې بنیاده دي، بلکې د تېر نظام کارکوونکي پــه ځانګړې ډول د دغه روزنیز مرکز افسرانو او اســتادانو سره د اسلامي امارت مسئولین نېک چلند کوي. له بلــې خوا بیا د دغــه روزنیز مرکــز د تېــر حکومــت یو بل پخوانــی کارکوونکــی محمد اســحق هوتک وايــي، چې له نېکــه مرغــه د تېر نظــام کوم افسران او۵مخ

## شوکت میرضیایوف د ازبیکستان ولسمشریزې ټاکنې وګټلې

د ازبیکســتان د ټاکنو مرکزي کمېســیون اعــلان کــړی چــې شــوکت میرامانوییــچ میرضیایــوف د ۸۷،۵ اووه اتیا ګټلــې دي.د دغــه کمېســیون د معلوماتــو پــر بنســټ،



میرضیایــوف ،چــې د لېــبرال ډیموکراټیــک ګونــد پــه اســتازولۍ نوماند شــوی و، د دغه هیواد ولسمشریزې ټاکنې اعشــاریه پنځه ســلنه رایو په ترلاسه کولو سره د اوو کلونو لپاره د ازبیکســتان د ولسمشر پــه توګه ټــاکل شــوي دي. دغو ټاکنو د نــورو نوماندانو له لــوري د عدالت سوســیال ډیموکراټ ګوند په اســتازولۍ رابعه‌خــان انورنــه محمودوا ۴۳، ۴ څلوراعشــاریه دری څلویښت د خلق ډیموکراټیک ګوند په استازولۍ اولوغبیک ایلیاس اوویــچ عنایت‌اوف ۲، ۴ څلور اعشــاریه دوه ســلنه او د چاپېریــال ســاتنې ګوند پــه اســتازولۍ عبدالشــکور خدای‌قول‌اوویــچ حمزه‌یوف ۷۴،۳ درې اعشاریه څلور اویا ســلنه رایې خپلــې کړې دي.د ازبیکســتان په ولســمشریزو ټاکنــو کــې ۶،۱۵پنځلــس اعشاریه شپږ۵مخ

## ملګرو ملتونوپه سوډان کې د پراخې کورنۍ جګړې خبرداری ورکړی

ملګــرو ملتونو خــبرداری ورکــړی، چې سوډان د سقوط په درشل کې د یوې بشپړې داســې کورنۍ جګړې لوري ته روان دی، چې ټوله سیمه بې ثباته کولی شي. دا خبرې وروســته له هغه شــوي، چــې د پلازمېنې خرطوم پر یوه ګڼ مېشته سیمه بمبارۍ کې لږ تر لږه ۲۲ تنه ووژل شول. د سوډان پوځ دا نه منــي چې ګڼې پر ســیمه دوی بمباري کړې ده، خو په بدل کې یې د چټک ملاتړ پــر ځواکونو تور پورې کړې ،چې ګڼې پر استوګنځیو بریدونه کوي. د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداره وايي، په ســوډان کې د جګړې لــه پیلېدو راهیســې نږدې درې میلیونه خلک بې ځایه شــوي چې شاوخوا ۷۰۰ زره یې ګاونډیو هېوادونو ته تېښــتېدلي دي.

### د سټنډرډ ملي اداره :

## ۱۷ ټـانکره بې کیفیته ګاز مو بېرته ترکمنستان ته وګرځول

د ســټنډرډ ملي اداري ترکمنستان ته د ۱۷ ټانکره بې کیفیته ګازو د بېرته مسترد ولو خبر ورکړی دی. چې د دې اداري له ســټنډرډونو سره یــې مطابقــت نــه درلود د هرات ولایــت تور غونډۍ بندر





یادې اداري ویلي، یاده اندازه ګاز، کې مــو بېرتــه ترکمنســتان ته مســترد کړي دي. د سټنډرډ ملي اداري ویلي، چې په دې وروستیو کې ســتنډرډ ملي اداري په خورا جدیت د بې کیفیته تېلو او ګازو د واردولــو د مخنیوي لپاره عملي ګامونــه پورته کړي. د ســتنډرډ مــلي اداري لــه ټولو ســوداګرو څخه غوښــتنه کړې، چې هیواد ته بــا کیفیته توکــي وارد کړي، کنه نو له قانوني چلند سره به مخ شي. د یادونــې وړ ده، چې یادې اداري لــه دې وړاندې هم هیواد ته د ســلګونه ټانکره بې کیفیته نفتي توکــو د واردېدو مخنیوی کړی و.